# The focus of Dr, Salma Shaheen's poetry is women

**Uzma Gul**★

**ABSTRACT:**

Salma Shaheen is a writer and poetess of modern Pashto literature. In her poetry, she has mentioned the life, psychology and related problems of woman. She considered the problems of not only Pashtun woman but also the woman of every region of the world as her own. And she shed light on it in free verses in the form of poetry. She has created such master piece free verse poems which deal with woman's issues such as woman, Eighth March, Blah, Baluchi Law, Hunger, Benazir, Hitting the same doubt, My little maid, etc., Salma. Shaheen as, a female writer, considers it her first duty to raise her voice for the cruelty and brutality against woman. She believes that unless women work side by side with men in our society, we cannot progress on the path of developments. In this paper her poetry about woman and related problems will be discussed at length.

**Keywords:** Poetry, Pashtoon women, Society, Developments, Women Harassment,

دا يو منلے شوے حقيقت دے . چې د ښځې د وجود نه بغېر دا کائنات نيمګړے نيمه خوا دے. د شاعر مشرق ښاغلي علامه اقبال د وينا مطابق

وجودِ زن سے ہے تصویرِ کائنات میں رنگ  اسی کے ساز سے ہے زندگی کا سوزِ دروں

صنف نازک (ښځه) د هر شاعر د شاعرۍ فطری توګه موضوع و محورجوړ شوے دے. او ددې دذکر نه بغېر دشاعر شاعري نيمګړې ده.په شعر کښې د ښځې حسن و ښکلا,دهغې صنفي ځانګړتياوي او د هغې سره مينه و محبت , هجروصال بيانېږي .دغه شان د ښځې د ذات سره تړلي مسائلو ذکر د نورو ژبو نه علاوه په پښتو شاعرۍ کښې هم نوموړو ليکوالو کړي ده چې په کښې د ډاکټر سلمه شاهين نامه سره کښې راځي.سلمٰی شاهين د پښتو جديد ادب يوه ستره ليکواله ده، چې ځانګړے انداز او شناخت لري. د دوي ليکونه مونږ ته د نوي فکر او پوخ شعور درس راکوي, د دوي په ليک

★ Assistant Professor GDC Charsada and PhD Scholar Department of Pashto University of Peshawar

کښې د پښتني روایاتو پالنه هم په نظر راځي. هغې د خپل زرخېز ذهن او فکر نه پښتو ادب جولۍ ته د نظم او نثر په مېدان کښې ګڼ شمېرادبي ملغلرې سپارلې دي. په شاعرۍ کښې هغې خپله زیاته توجه د غریبې ,نادارۍ او ځېلي طبقې نه پس ښځې او د هغوي مسائلو ته ګرځولې ده.د هغې په شاعرۍ کښې په مجموعي توګه د ښځو په اړه ډېر نظمونه او غزلونه موجود دي .خو زۀ د لته د سلمٰی شاهین د ښځو په حالت د معاشرې نه د ګیلې په اړه د هغې ټولې شاعرۍ نه د ښځوپه حقله صرف ازاد نظمونه په خپله مقاله کښې لوستونکو ته وړاندې کوم چې محترمې په هر حال او حالت کښې د ښځو نمائندګي کړې ده او د یوې زنانه په حېث هغې پنځویشت کاله مخکښې د زنانو کوم حالت زار په خپل لیکونو کښې ښودلے دے . هغه نن په حقیقت کښې واقعه شوي دي ځکه مشرانوئیلي دي. چې نابغه (Genius)د خپل وخت نه مخکښې پېدا شوے وي.دغه شان د هغې د شاعرۍ په مېدان کښې کله د لیکلو دپاره قلم پورته کړے دے نو په دغه موده کښې د اتۀ ویشتو کالو په عمر کښې ئې د ښځې په مقام او د هغې سره د معاشرې ناروا سلوک باندې د خپل فکر ملغلرې نوستلې دي.یقیناً چې د سلمه شاهین د شاعرۍ محور و مرکز ښځه ده چې هغې ته ئې په منظوم او منثور لیکونو کښې د سوچ و فکر د پښتو جدیدادب د نورو فکري او نظریاتي ډلو لیکوالانو کښې ځانګړې حېثیت ور بخښلے دے . چې هغه نه صرف د ښځې غم ژاړي . بلکې د هغوي لار ښودنه هم کوي .د ډاکټر سلمه شاهین وېنا ده چې"زۀ غواړم چې په مونږ کومې سختۍ تېرې شوي دي.نود راتلونکي نسل زنانه دهغې ښکار نۀ شي او ځان ددغو سختو نه روغ اوباسي"۱

دمحترمې سلمه شاهین د شاعرۍ په حقله ډاکټر یوسفِ خشک لیکي.

*"نسوانی لھجہ جس منفرد اور واضح انداز میں سلمٰی شاھین کی شاعری میں جھلکتا ھے پشتو ادب میں اس کی مثال کم ھی کسی اور شاعرہ کے ھاں ملتی ھے۔ جب کہ آپ کی شاعری میں امید اور یاس کی آمیزیش سے رنگ آمیزی کی گئی ھے۔ عورت کے مسائل، طبقاتی کشمکش، پشتو زبان اور تھذیب سے محبت اور منافقانہ رویوں کے خلاف بغاوت ان کی شاعری کے اجزا قرار دیئے جا سکتے ھیں۔"۲*

یو شاعر ,ارټسټ حساس بنده د خپل چاپېرچل نه اثر اخلي.هغه چې څۀ ویني او محسوسوي.د خپل ارټ په ژبه ئې بیانوي. هم دغسې سلمٰی شاهین له خدا ے پاک د لیک

په ذريعه د اظهار کولو صلاحيت ورکړے دے.نو هغې پرې هيله نه ده کړې.هغوي چې خپل چاپېر چل کښې څه ليدلي کتلي دي . هغه ئې ښه په ډاګه بيان کړي دي هغه که د معاشرې دلاسه د بنيادمو سره بې انصافي وي او په خاصه توګه ښځوسره ظلم زياتے وي.,د دوي د شعرونو په مجموعه کښې اکثر همدغسې احساسات په نظر راځي .د بې وفائي, بې ننګي, دهوکه .فرېب ,ظلم , نا انصافي او داسې نور ډېر موضوعاتو باندې نظمونه شامل دي چې ددغه قسم جذباتو ترجماني کوي .دا نظمونه ئې په مشاعرو کښې اورولي دي او ليکونکو د قلم نه پرې تبصرې هم شوې دي.په دې شاهکار نظمونو کښې د زنانوؤ د کشالو سره تړلي نظمونه هم شامل دي .لکه د هغې د شاعرۍ وړومبے دور ازاد نظم "ښځه " او د نني دور ناچاپه شاعرۍ کښې دويم اٰزاد نظم" ښځه", "هسې په شک مې وژنې" اتم مارچ " ,بلا , بې نظير, بلوچي قانون , لوږه ,اے حسينې نازنينې او داسې نور. بحېثيت يوې زنانه شاعرې سلمٰی شاهين د ښځو سره د معاشرې ناروا سلوک او ظلم خلاف اواز پورته کول خپله اولين فريضه ګڼي.

د سلمه شاهين شاعري د پښتنې ټولنې د ښځو سماجي شعور بېدارولو سره سره د دوي د جذباتو ترجماني هم کوي .هغې د ښځو په حالات زار او د الميو په حواله خپل خيالاتو د شعر وفن جامه اغوستلې ده او د بيان بې ساختنه او ساده انداز د لوستونکو توجه ځان پله راکاږي. دغه لوستونکي د ښځينه مسائلو په حقله سوچ و فکر کولو باندې مجبوره شي.د هغوي په دردونو او غمونو د خلقو زړونه دردونه محسوس کړي.دلته شاعره سلمٰی شاهين د خلقو ذهنونه ته د خپلو خيالاتو منتقل کولو په هڅه کښې کامیابه شي .ځکه هغه په خپله شاعرۍ کښې د ډېرو غمزپلو او دردېدلو خويندو احساساتو ته مسحور کن ژبه ورکړې ده او د هغوي د ژوند ئې حقيقي نقشه راښکلې ده. دمعاشرې غلطو رواجونو باندې سخت ټکونه کړي دي او د خپلې تجربې په رڼا کښې ئې د ښځو مسائل په ګوته کړي دي.د آزاد نظم په هئيت کښې خپلو خيالاتو ته جادويي ژبه وربخښلې ده.د سلمي شاهين شاعري فصاحت او بلاغت ,حقيقت پسندي رنګ او بيان بې ساختګي لري.د هغې په شاعرۍ کښې بنيادي خيالات هم د ښځو دردونو او غمونو باندې اډانه ده.د حقيقت سره تړلے دا بې کچه ساده خيالات د شعر و فن په جامه کښې د آمد رنګونه لړلي ښکاري.

**هسي په شک مې وژنې**

تهٔ خامخا مې وژنې
هسې په شک مې وژنې
په کوم بابا درته قسم اوخورم
په کوم زيارت به دې يقين راشي
منم چې زړهٔ لرم جذبه هم لرم
دا هم منم
مئينه شوې به يم
خو څه مې کړې نه دي
او څه کېدے هم نه شي
ستا په غېرت ستا په پښتو مې قسم
ستا په شمله ستا په انا مې قسم
هسې په شک مې وژنې
چې خامخا مې وژنې
خپله مرضي خو به کوم ۳

په دې نظم کښې يو ردم ( Rythem )او ترنم دے .دې د نظم خوندرنګ نور هم سېوا کړے دے. سره ددې چې يو سپور ستغ مضمون په کښې بيان شوے دے چې د يوې ښځې د خفګان او د بې وسۍ دے .کله چې معاشره په يو مجبوره انسان ظلم کوي. کله چې يو جينۍ د مينې په تور اووژلےشي او د هغې ريښتيا حال وئيلو باندې هم څوک يقين نهٔ کوي او نهٔ د ريشتنې موقع ورکولے شي . زمونږ د پښتنې معاشرې ددې ناروا سلوک له کبله ډېرې تور سرې د دې دنيا نه په وينو لت پت تلې دي.که مونږ د پښتو ادب اولسي قيصې اوګورو نو د شېرعالم مېمونۍ قيصه هم د ښځې خاوند په مېنځ کښې د شک د وجې مېمونه په چاړهٔ حلاله کړې وه.د سلمٰی شاهين د خپلې معاشرې د ښځو سره د ظلم او جبر خلاف غږ پورته کولو کښې يو شېبه هم نه ضائع کوي او هغې ته د خپل اولسي او تاريخي قيصو کښې د ښځې ذات سره شوي ظلم او ستم باندې افسوس هم دے,سلمٰی شاهين د عصمت د شاعرۍ په حواله دپښتنې ټولنې او د ښځينه نفسياتو,جذباتو او د مسائلو د ښځو

سره ناروا سلوک خلاف آواز اوچتوي او د عصمت د شاعرۍ په دیباچه کښې لیکي.
''نه معاشره بدله او نه د خلقو په رویو کښې څه تبدیلي راغلې ده. نه په کور کښې نه بهر .ټول ګردابونه د ښځې د وجود نه چورلي او داسې ښکاري چې دا په کښې د ځان د بچ کولو دپاره لاس پښې وهي . نفسیاتي استحصال ,اشتعال انګیزي .غلطې فیصلې ډېرې بې شمېره مسئلې که د هیومن رائټس او ویمن رائټس په نوم تنظیمونو کښې کار کوي.خو ددې نه راڅرګندېږي چې د مخالف جنس ظلمونه نور هم سېوا شوي دي.[۴]

د محترمې سلمه شاهین په ناچاپه شاعرۍ کښې ''ښځه'' نومې اٰزاد نظم کښې پښتنې معاشره کښې د ښځې سره ناروا سلوک ,ظلم ,بربریت ,خلاف د خپل حساسه زړۀ نه د قلم په ژبه د ردعمل په توګه اظهار کړے دے. ددې اوسنې دور اٰزاد نظم ''ښځه'' ابتدا ئې داسې کړې ده چې د دهشت ګردۍ ورځوکښې به چې کله ښځې وژلې کېدې او د هغې د کور سړي به هم قتل کېدل او دا ناتوانا ښځه سرتوره د خاوند او زلمو بچو لاشونه به ئې اوچتول.د هغې سره د ساندو ویر او ژړا نه بل څه طاقت نه وۀ. په ناچاپه شاعرۍ کښې د ''ښځه'' نومې نظم کښې پښتنې معاشرې کښې د ښځې سره ناروا سلوک ,ظلم ,بربریت د محترمې سلمه شاهین ساه ډوبه کړې ده او په پوخ عمر کښې د تجربې په بنیاد په دې نتیجه رسېدلې ده چې ښځه په یو حال کښې هم خوشحاله نۀ ده .د نمونې په توګه د سلمٰی شاهین د اٰزاد نظم ''ښځه'' وړاندې کوم

## ښځه

په هر قدم دې وژني
په هر وطن دې وژني
وراوروي دې بوره وي دې
کنډه وي دې ورکوي دې
دا بارودونه او دا بمونه
دا خودکش دا جېکټونه
ستا خواخوږي ستا دردونه

هم په تا ئې مړه کوي
هم تا پرې ژړوي
ستا غېږ کښې تنکي وژني
ستا زلمي ګولۍ قرار کړي
ستا بوډا هم در په در کړي
اے ددې صدۍ مظلومې
اے وير جنې وير ژړلې
ته د ساندو نه پېدا ئې
تل په وير واويلا ئې
که دې پلار که دې رور دے
که دې خپل دے يا پردے دے
تۀ ځاربږه قربانېږه
تباه کېږه او ژړېږه
ستا په ژوند کښې معافي نيشته
ستا د وينې اوږې تږې
په ښه ورځ دې خفه کېږي
په يقين دې اعتبار نه کړي
په اعتبار ئې يقين نشته
تۀ چې لور د پردي کور شې
ستا په ژوند کښې راحت نشته
که ته مور ئې او که خور
ستا څۀ برخه پنډه نشته
قربانېږه او ځاربږه
د خپل حق نه دستبرداره
خوشامندو ته تياره
ستا نه هېڅوک خوشحال نه دي

دا بې جوړه شان دنیا ده ۵

ددې نظم لوستو نه پس په حېث د یوې ښځې ما محسوسه کړه. چې ډاکټرسلمه شاهین چې د ښځو په حقله څه وئیلي دي . هغه حقه وینا ده.ځکه چې د ښځو ټول عمر په دغه تگ و دو کښې تېرېږي که هغه د نورلسمې صدۍ او که یویشتمې صدۍ ښځه ده  هغه هم ددغې کشالو ښکار ده  هغه د خپل چاپېر چل په ژور نظر لوستنه کوي او خپله مشاهده او تجربه او تاثر د لیک په صورت کښې راولي. هغې د حق او احتجاج اواز پورته کولو د خپل ذهن او قلم استعمال کوي .د سلمٰی شاهین په قول چې" زۀ د هر غریب سره د شوي ظلم خلاف آواز پورته کوم .خوچې کله د ښځو د حقونو خبره راشي نو زۀ متعصبه (Biased.)شم."۶

د سلمٰی شاهین د شاعرۍ وړومبي دورمجموعه" نوے سحر" کښې "ښځه " نومې نظم کښې د ښځې ستر او قدر و عزت مقام په گوته کړے دے. . چې په کښې د یو ښځې نفسیات بیان کړي دي او ښځه ئې په مختلفو کردارونو او رشتو کښې پېش کړې خو ورسره ئې د ښځې بې وسي او د سړو دلاسه په هغې کېدونکو ظلمونو ته په ځیرشوې ده.نو دزړۀ درد احساس اواظهار ئې په زړۀ راښکونکي انداز کښې کړے دے. د هغې د شاعرۍ ړو مبي دور" ښځه" نومې نظم ابتدا د ښځې د تعریف نه کړے دے او په دي کښې ئې د حدیث حواله ورکړې ده چې ښځه مور ده او د هغې د پښو لاندې جنت دے او بیا رو رو د ښځې په معاشره کښې ,خپل کور کښې د هغې خدمتونه او هغې سره ناروا سلوک خلاف د سلمٰی شاهین قلم ډېر تېز چلېدلے دے او په اخر کښې ډېر قهرېدلې او غصې نه ډک آواز کښې هغه وخت داسې گویانه شوې ده کله چې د سړي د لاسه د ښځې عزت هم محفوظ پاتې شوے نۀ دے.

تۀ یوائې تۀ یوائې تۀ یوائې
یو د لوبو گوډاگے وے
دۀ دپاره
خو عظیمې د چا مورې
قدرمنې د چا مورې
په پردو دننه پټې

ستا حيا سره لوبېږي[۷]

سلمیٰ شاهین د ښځه نومې نظم په حقله یو تنقیدي څېړنه کښې "نو ے سحر د مطالعې په مېز" سید چراغ حسن حسرت دا سې تفصیل بیانوي.

"ښځه مور ده, خور ده او لور ده. دا ټولې رشتې د احترام او تقدیس وړ دي, خو ښځه او بیا د پښتنو ښځه بطور ښځه څومره مجبوره او بې وسه ده. معاشره کښې ددې څه سر دے؟ د لوبو یو ګوډاګے دے . حالانکې ددې د پښو لاندې جنت دے او د تخلیق کار چې دے سر ترلے دے . ځائي وصف دکردګار دے او د دې قرباني. دا پت او حیا جذبو خو لا عظیمې او د پرستش جوګه ده." [۸]

دغه شان هغې بل نظم د زنانهٔ ورځ اتم مارچ باندې لیکلے دے چې په کښې د صنف نازک سره او تنکو غوټو سره جنسي استحصا ل ته ډېر په غم وغصه کښې خپل جلالي فکر او سوچ د تېرهٔ قلم څوکې ته سپارلے دے . ددنیا چلونکے د بابا آدم زامن ئې داسې سپک کړي دي .چې د تنقید او د طنز وینا د هغې د برخې د حق آواز شاید په آدم زادو باندې څهٔ اثراوکړي.د سلمیٰ شاهین د وینا مطابق چې په قصور کښې ماشومې زینب سره جنسي بدسلوکي شوې وه. دغې وخت د هغې د مرګ په حادثه د لیکلو ته مې خیال راغلو. په دې نظم کښې ډاکټر سلمیٰ شاهین د خپل غم او غصې شدت سره اظهار په دې ټکو کښې کړے دے .

## اتم مارچ

اے خونخواره یادوم دې په اتم مارچ
زهٔ دې ښه ذلیله وم په اتم مارچ
نهٔ زما حالات بدل شو
اونهٔ تهٔ د کرښې اوړې
زهٔ دې خوښه یم خبر یم
زما نوره تشریح نشته
بس بر بنډه یوه ښځه
ستا د خیال روزلې ډمه

يو ډسبين يم
يو خراب تېشو پېپر يم
ظالمه اے خونکاره
نۀ په خور ئې نه په مور ئې
ستا د لاس د بري کار دے
چې هوس دې نه سړېږي
قرانونه مذهبونه
صحيفې درته عبث دي
اے ناشکره ځناوره
يو تحفه يم خدا ے درکړې
د سرو وينو سودا ګره
اے زما د ژوند د ښمنه
تۀ سپين باز ئې الوتے شې
زۀ زخمي زخمي کونتره
په سلګو ژوند تېرومه
تحفه يم خدا ے درکړې
ښۀ بې وسه او مجبوره
اے زما د بدن غله
او چې ستا دکاره اوځم
کله پرې مې کړې وزرې
کله پرې مې کړې هډونه
کله اوسېزې په اور مې
لس کلنه شپږ کلنه او نيمزالې
که بوډۍ وي
ستا خو مړے هم پکار وي
يو ساعت چې شي خوشحاله ۹

په حقیقت کښې د سلمیٰ شاهین قلم د وخت تېرېدو سره څۀ لږ ډېر نور هم باغي شوے دے۔ دا بغاوت هغې د خپل اولس د ناروا دود دستور ، غلطو رواجونو رسمونو د زړو روایاتو ، د اولسي ژوند د هرې ورځې راپېښېدونکو کشالو, لانجو د ښځوسره ظلم او د زور زیاتي او جنسي استحصال (Harassment )خلاف دے۔خو محترمې د ظلم خلاف خپل باغي قلم د خپل شعور خپلو کلکو ذاتي فېصلو او د خپل روغ نیت په لاسو کلک قابو کړے دے نو ځکه ئې قلم بې واکه شوے نه دے او په چل هنر د خپل زړۀ براس ویستلے دے.
د سلمیٰ شاهین مشرق میګزین ته دیوې انټرویو په دوران کښې د ښځو مسئلو اوکشالو په اړه خپلو لیکونو په حواله وائي.

،،ایسے بے شمار موضوعات ماں باپ، بہن بھائیوں اور اڑوس پڑوس کے رویئے کے بارے میں احتجاج ٹپے میں موجود ہے۔اسی اثر کے تحت میں نے جب جدید نظم کی تخلیق شروع کی۔تو لاشعوری طور پر عورتوں سے ہمدردی اور انصاف کے حصول جیسے موضوعات پر نظمیں لکھیں۔اس میں کچھ درد تو ٹپے کے سمندر میں اترنے کی وجہ سے ملا اور کچھ میری ذاتی شخصیت کی بھرپور عکاسی ہوئی کیونکہ تخلیق کرتے وقت میں کسی کی پروا نہیں کرتی۔میری اپنی مرضی ہے جو کچھ لکھتی ہوں۔ ٹھیک لکھتی ہوں اور نہ کسی کی رائے کا خیال رکھتی ہوں۔اب مجھے باغی بھی کہہ سکتے ہیں"۱۰

ښځې د هرې ډلې هرې معاشرې او هر ملک وي محترمې سلمیٰ شاهین ته مظلومې ښکاره شوي دي او د بابا آدم د زامنو د لاسه ظلمونو ښکار شوۇ ښځو په حقله د حق اواز پورته کړے او صنف نازک سره خپله همدردي او ملګرتیا ښکاره کړې ده او د اولس ,وطن او آدم زادو نه ئې په ډاګه په سختو خو په مدلل ټکو کښې ګیله کړې ده
کله چې خبره د ښځو د حقونو راشي نو د هغې د قلم څوکه نوره هم باغي شي چې "بلا" نومې نظم تخلیق کړي .په دي نظم کښې په پښتونخوا د زنانهٔ سکولونو ۲۰۰۸ء کښې د سوزېدو واقعې په ردعمل کښې خپل تاثرات دې نوټ سره( د دریمې دنیا د غریبو ملکونو نه ,, زنانه ، ، خصوصاً په پښتونخوا کښې د زنانهٔ سکولونو په سوځېدو لیکلے نظم. ۲۰۰۸ء) په مجموعه انتخاب شاهین کښې بیان کړے دے۔

## بلا

لاخو دې سترګې غړولې نۀ وې

لاخو پورا بېداره شوې نۀ وې
لاخو تعليم دې پوره شوے نۀ وۀ
تا خو رڼا د ژوند ليدلې نۀ وه
لکه هوسۍ د شرمخانو تښتېدلې نۀ وې
لاخو دې ګېډه مړه شوې نۀ وه
لا د پردو لوښو وينځلو دمه شوې نۀ وې
اے نازنينې ستا د ژوند د احترام او عزت
ارمان پورا خو نۀ وۀ
لامجبورۍ او بې وسۍ دې ختمې شوې نۀ وې
لاخو حقونه چا درکړي نه وو
لاخو دې سترګې اوچې شوې نۀ وې
د پاسه بله بلا
په تا نازله شوله
وائي بورقه په سر کا
تيرو کښې ژوند تېروه
د پوهې علم په لار
پام کوه تېره نۀ شې
خو د حوا لورې
څومره پنجرې سازې شوې
څومره ژوندۍ ښخې شوې
ډېرې سورې هم لاړې
مونږ خرڅې شوې هم يُو
او
ګډې شوې هم يُو
بس ماتے به نۀ قبلوو
راځه چې لوظ وکړو
مونږ که په خپله سيمه امن غواړو

نو ورسره به
مساوات غواړو حقوق غواړو
انصاف غواړو ۱۱

ډاکټر سلمیٰ شاهین بلوچستان کښې په کال ۲۰۰۸ء کښې شوې يوې واقعې باندې خپل د زړۀ بړاس ايستلے دے او په بلوچي قانون ئې په ډېر مهذبه لب ولهجه کښې تنقيدي نظر رڼا اچولې ده. دې نظم کښې د ښځو سره زور ظلم زياتي خلاف ئې د حق اواز پورته کړے دے. محترمې دا نظم خپل دې يو نوټ سره (دا واقعه په بلوچستان کښې په ۲۰۰۸ء کښې شوې وه) په مجموعه انتخاب شاهين کښې شائع کړے دے.

## بلوچي قانون

ماله خندا راغله
چې يو ظالم د بلوچي قانون دفاع کوله
وئيل ئې
مونږ ډېر احترام د زنانهٔ کوو
کله چې دوي په کمه لار تيرېږي
که د ټوپکو خولې کولې وروي اور وروي
بس نو د دوي په احترام کښې ټول سارۀ شي
ډز بندي هم کېږي
ماله خندا راغله
دا ډز بندي د احترام علامت
چې دوي په لار تيرېږي
په ويره ترهه مصلحت درسره ژوند تيروي
لکه هوسۍ چې په ځنګل کښې اوسي
دوي بس خاموشه وي
که خوله پرانيزي
تانه جائيداد کښې خپله برخه غواړي
يا زندګي په خپله خوښه غواړي

که غر کوي چې دا مې خوښ نا خوښ دے
بیا د تورپک ګزار ته هم نۀ ګوري
بیا لاګولۍ هم سره شوې نۀ وي
بیا ترینه ساه هم لاختلې نۀ وي
دا احترام دے
چې ژوندۍ ښځې
دا احترام چې په یوه کنده کښې
درې او څلور ښځې
دا احترام چې لاوارثه
په کوڅو کښې پرتې

اُف څومره ښۀ قانون دے
انسانیت پورې خندا خو نۀ ده۱۲

سلمه شاهین د چین سفر کښې د چینیانود رویو او ترقۍ بغور مشاهده کولو نه پس په سفر نامه کښې د خپل وطن پښتنو ښځو په حواله سوچ کوي چې کاش زمونږ په ملک کښې هم داسې حالات وے. چې ښځې د سړو سره څنګ په څنګ د ترقۍ په لار راونې وے او هغې ته خپل ځانګړے مقام حاصل وے. په دے حقله ډاکټر سلمٰی شاهین په سفر نامه" دل اور آنکھیں چین میں" کښې لیکي.

"میں جو خود کو Feminist writer نہیں سمجھتی اور نہ ہی اس بات پر یقین کرتی ہوں کہ ادب یا کوئی اور آرٹ خواتین کا مردوں سے مختلف ہوتا ہے ادب ادب ہوتا ہے جو معاشرے ماحول اور حالات سے پیدا ہوتا ہے۔ اور یکساں ہی ہوتا ہے۔ کیونکہ جذبات واحساسات ایک جیسے ہوتے ہیں تفریق پیدا کرنا کہ یہ عورتوں کا یہ مردوں کا رویے میں ہر چیز بٹی ہوئی ہے۔ کہ ادب کو کیا تقسیم کرنا ہر حال میں لاشعوری طور پر عورت ہونے کے ناطے شائد عورت کے حوالے سے لکھ لیتی ہوں. پاکستانی عورت اور خاص طور پر پشتون (پٹھان) عورت کو Equal Status میں دیکھنا چاہتی ہوں۔ اقتصادی معاشی حوالے سے یہ سب کچھ دیکھ کر خواہش ہوئی. کہ کاش ہماری خاتون بھی خود اعتماد اور خود مختار ہو

جائے .خود پر انحصار کرے اپنی اپنی شخصیتوں کے حوالے اور پہچان سے جئے اور مرے فلاں کی بیوی فلاں کی۔۔۔بہن اور فلاں کی ماں نہ کھلائے۔اپنے فیصلے خود بھی کرے اور اپنے پاؤں پر کھڑی ہو سکے لیکن انکو تحفظ کون فراہم کرے گا۔ جب کہ وہ اب تک اپنے گھر میں بھی محفوظ نہیں ہے۔کب ایسا وقت آئے گا جب وہ مردوں پر بوجھ نہ ہو اپنی قابلیت صلاحیتوں اور ہنر مندی سے روایات کا گلہ گھونٹ کر کب خود زندہ ہو جائے۔کاش ایسا کوئی نظام ہو کہ وہ شادی جہیز اور غیرت کے نام پر بار بار نہ مرے"[۱۳]

بې نظیر بهټو شهیدې په مرګ لیکلې نظم د محترمې سلمه شاهین په شعري مجموعې"انتخاب شاهین "کښې شامل دے- د محترمې بې نظیر سیاسي هلو ځلو او په خاصه توګه د غریبانانو او مزدورانو د پاره د بي بي کلک او پوخ سیاسي ارادو ته او د هغې په یاد کښې عقیدت پېرزوئنې وړاندې کړې دي.دلته ددې نظم نیمه برخه وړاندې کوم.

## بې نظیره

د عوام په مینه مسته
د عوام په مینه لاړې
اوس عوام درپسې ژاړي
د حوا لورې ساده وې
په قاتل دې اعتبار کړو
څۀ نیمګړې نیمه خوا دې زندګي وه
عبادت وو زندګي دې بندګي وه
په یو چغه د ډوډۍ جامې مکان
تا راټول کړل ټول خواران او مزدوران
په یو چغه د مزدور دې مېدان یوړو
څۀ جرات څۀ حوصله څۀ شخصیت
عقل ، فکر او دانش شعور همت
واړه تا باندې تمام وو

یوه شمع درخشانه په تیرو کښې
د مشرق لورې مغرب درته حیران دے
دا دنیا به پېدا نۀ کړي بله تا غوندې زړۀ وره
یوه ښځه وفاداره بې نظیره
د پر سرې له تانه ځار شه بختوره
خلق وائي سل دې اومره
خو د سلو سردار دې مۀ مره
خو په دې ظالم نظام کښې
سل هم اومري زرهم اومري
او د سلو سر دې هم وژلے کېږي ۱۴

سلمٰی شاهین په "لوږه" نومې اٰزاد نظم کښې زمونږ دمعاشرې هغه تنده غري او د مودو اوږې ئې ښنډلي دي ، کوم چې د خپلې خېټې لوږې مړولو د هر څه نه ور تېر شي . شاعرې دې ته غریبي، مجبوري او بې وسي وئیلي دي چې څوک د خپلې لوږې ختمولو دپاره د بل لوږه مړه کولو له مجبوره شه او د خپل ځان او حسن په خرڅولو مجبوره شي . سلمٰی شاهین په علامتي او اشارتي انداز کښې دوه قسمه لوږې مړولو ته اشاره کړې ده . دواړه لوږې د نفس او وجود سره تعلق لري . یو د حسن لوږه او بل د خېټې لوږه ده.

**لوږه**

لاتر اوسه
ستاپه زلفو
په خالونو
تورو سترګو
او
نازونو
ټول مئین دي
د هر چا د زړګي سر ئې
بوراګان دی

پتنګان دي
که سوزېږي که بلېږي
خو د لوړې نه ګډېږي
ته پخپله مرضۍ نه ئې
زه پخپله مرضۍ نه یم
څوک په خپله مرضۍ نه دي
ستا خو لوړه مړه کول دي
د چا تنده سړول دي
المیه زمونږ د دور
نور څه نه
بې وسي ده
غریبي ده ۱۵

د سلمٰی شاهین دا شاهکار نظم چې د معاشرې هغه بې وسه د هوس بیمارانو باندې ډېر په هنر او په علامتي انداز کښې تنقید کوي او پوهه ده چې د دوي د ژوند مقصد صرف او صرف د نفس لوږه مړول دي . محترمه سلمه شاهین خپل چاپېر چل د واقعاتو او المیو او حالات حاضره نه خبر ده او د ډېر خفګان او د زړه د سوخته د نظم په لیکولو مجبوره شوې ده ځکه چې شاعر حساس وي او چې څه محسوسوي. هغې ته د لفظونو رنګداره جامه واغوندوي.د شاعر په جذباتو احساساتو او د هغې په اظهار څوک پابندي نه شي لګولے , شاعر له چل ورځي او بیا سلمٰی شاهین د اظهار کولو په دغه چل پوهه ده. د ښځو سره ظلم او ناروا جنسي رویې خلاف یو بل ازا د نظم" اے حسینې نازنینې" د قلم د ژبې نه ویستلے دے , زه دلته د ډاکټر سلمٰی شاهین آزاد نظم ' اے حسینې نازنینې'' وړاندې کوم چې په کښې ټولو ښځو ته مخاطبه ده او د تورسرو په حواله د سلمٰی شاهین د افکارو او غم و غصي اظهار او جذباتیت , حساسیت اندزاه به ترې اوشي,,

**اے حسینې نازنینې**

دلفریبه دې رنګونه

حسن ته ئې مينه ته ئې
عقل ته ئې
امن ته ئې
خوځنګل دځناورو
ګيدړانو شرمخانو
مينه نه ويني ړانده دي
حسن ښپو لاندې کړي خاورې
عقل وسوزي ايرې کړي
امن هم تالا ترغه کړي
کائنات د مصلحت ستا
أمېدونه نزاکت ستا
هنرونه سخنوري
اے حسينې ملغلرې
بس د يو سره قربان کړې
که اوسېزې ورسره هم
د هوسۍ غوندې په ويره
دې ځنګل کښې اوسېدل دي ۱۶

ډاکټر سلمٰی شاهين په خپل ژوند کښې د قلم او کتاب سره خپله رشته نه صرف مضبوطه ساتلې ده . بلکې په ژوند کښې چې ئې څه ليدلي اوکتلي دي. نودبيان په ژبه ئې مونږ ته سپارلې دي . ما ته خو د خدا ے بخښلې زېتون بانو دا خبره را ياده شوه چې "سلمٰی چې څه ويني څه ګوري څه پرې تېرېږي هغې کښې مونږه هم برابر شريکوي او ځکه خو زمونږه ټولو په شريکه سلمٰی شاهين خوښه ده " ۱۷

د سلمٰی شاهين دويمه مجموعه زهٔ هم هغسې وړه وے" کښې" زما وړه نوکره" نومې نظم کښې د ماشومې نوکرې او خپل ذات ته بغور مشاهدې نه پس نظم د قلم ژبې نه وېستلے دے. چې د مکالمې په ذريعه خپل نظم کښې خوند رنګ نور هم سيواکړے دےاو د سوال جواب په ذريعه ئې دليل سره پخې پخې د کاڼي کرښې خبرې کړي دي او د ځان سره د يو ماشومې نوکرې

موازنه هم کړې ده چې په کښې يو نتيجې ته رسېدلې ده او د دنيا حقيقي مالک الله ته مخاطب شوې ده چې مونږ دومره سهولياتو باوجود, آرام او راحتونو نه وېزاره اوسېږو او د هر چا حق وهو او خپل فرائض نه پوره کوؤ. ددې نظم په حقله ډاکټر شکريه قادر په خپله تحقيقي مقاله کښې ليکي.

" سلمیٰ بي بي د وړې نوکرې په شکل يو خوا خو د يوې معصومې پښتنې جذبات بيان کړي دياو بل خو ئې ورسره د خپل ذات په شکل کښې د يوې پښتنې آسوده حال تورسرې موازنه کړې ده او دغسې خپل نظم "زما وړه نوکره " کښې د پښتنې ټولنې دوه ښځينه کردارونه وړاندې کړې دي." ۱۸

سلمیٰ شاهين "زما وړه نوکره " نومې نظم کښې د دوه ښځينه کردارونه ( مالکه او غريبه نوکره ) په خوندوره پيرايه کښې ښه مضبوطودلائلو سره موازنه کولو نه وروسته په دې نتيجه رسېدلې ده..

اف خدايه لويه خدايه
عجيبه دې دا دنيا ده
څومره ژوند کښې ئې سکون دے
عجيبه هم ستا تقسيم دے
زۀ د ژونده هم وېزاره
نه په حق د چا پوهېږم
نه مې فرض عبادت شته
په دومره زولنو کښې د وختونو ګرفتاره
هم د فرضونو نه وېزاره
زما لويه خدايه پاکه
چې زۀ هم ددې په شان وے
صبرناکه تابعداره ۱۹

دا نظم د سلمه شاهين د حساس طبيعت او ژورې مشاهدې نمائندګي کوي . هغې په کور کښې د يو وړې نوکرې ته ښۀ په غور کتلي دي او بيا ئې د خپل ځان جائزه اخستې ده . د دواړو موازنې نه وروسته ئې ځان ته ډېر بد رد وئيلي دي . ځکه چې هاغه د غربت ځپېړو

وهلې غريبه جينۍ ئې بيا هم د خپل رب شکر کوونکې صبرکوونکې ليدلې ده چې هغه دخپل رازق خدا ے په تقسيم رضا ده . دلته کښې شاعرې په زړه رابښکونکي انداز کښې د خان او غريب حالات او واقعات ,طرز زندګي, سکون او اطمينان په حقله ئې ټول حالات , کېفيات او خپل محسوسات په ډاګه بيان کړي دي او مونږ ته ئې دا پېغام راکړے دے چې په هر حال کښې د رب شکر ادا کول په کار دي او د ماشومې نوکرې د پاکې سپېځلې جذبې صبر او شکر نه مونږ ته سبق اخستل په کار دي . د شاعرې په قول هله به دواړو جهان کاميابي نصيب شي.

څنګه چې ما مخکښې بيان کړي دي چې د ډاکټر سلمیٰ شاهين د خپلو هم جنسو يعني زنانهٔ سره فطري طور مينه لري او د هغوي غمونه ,دردونه خپل ګڼي. د شاعرۍ سره سره د ادب په هر صنف کښې د زنانهٔ سره تړلې مسائلو ذکر کړے دے او هغې د خپل الهامې قلم په قوت ئې په پښتنه معاشره کښې د زنانهٔ دپاره د اوچت مقام او حق غوښتنه کړې ده چې ناشونے کار خو نهٔ دے ولې ګران ضرور ښکاري چې زمونږ معاشره کښې ښځو ته هغه مقام حاصل شي کوم چې د يوفرد حق دے او ددې بدلون دپاره ډاکټر سلمیٰ شاهين د پښتنو ښځو تعليم حاصلول ضروري ګڼي.

چې په قام کښې پښتنې جونه پېدا شي نو تيارې زمونږ د جهل به رڼا شي

محترمه سلمیٰ شاهين غواړي چې ښځه دې هم تعليم حاصل کړي .ځکه چې د هغې د مسئلو واحد حل هم دا دے . هغه غواړي چې هره پښتنه ښځه دې په همت ,حوصله او قابليت سره د ننني دنيا او د هغې د مسائلو مقابله ښهٔ په نره اوکړي او خپلې ذمه واري په ښهٔ طريقه سرته اورسوي او خپل ځان ته معاشره کښې يونوم پېدا کړي په 'ورځپاڼه مشرق ''ادب نامه '' .هما بيګ سره انټرويو کښې وائي.

"میری خواہش ہے کہ کوئی عورت بھی جاہل نہ رہے تاکہ وہ اپنے آپ کو درپیش مسائل کا خود ہی حل تلاش کر سکے تعلیم حاصل کئے بغیر ایک عورت مکمل عورت نہیں بن سکتی تعلیم سے خواتین میں احساس ذمہ داری پیدا ہوتا ہے تعلیم سے اندھیروں میں روشنی پھیلتی ہے اور ذہن وفکر روشن ہو جاتے ہیں ایک تعلیم یافتہ عورت ایک گھر کی حفاظت اور بچوں کی پرورش زیادہ بہتر انداز میں کر سکتی ہے۔" ۲۰

په دې څېړنه کښې مونږ دې نتيجې ته هم رسو چې ډاکټر سلمه شاهين ديوې زنانه ليکونکې په حېث د ښځې د مظلومې او بې وسې د حالت او داخلي کېفيت بيانولو سره سره په خپلو ليکونو کښې د نوي وخت د تعليم يافته او باشعوره جينکو په خولو کښې د خپل حق د غوښتو دپاره ژبه هم ايښې ده او هغوي ته ئې د يو ماهر نفسيات او لار ښود په حېث هغه توان حوصله، ډاډ او جرأت هم ورکړے دے چې هغوي د خپلو جائزو حقونو د ترلاسه کولو دپاره څۀ عملي ګامونه هم پورته کړي او دخپل ژوند لارې ځان ته اسانې کړي .

سلمٰی شاهين پخپله هم يوه پېغله ده او خپل ژوند ئې د پښتو ژبې او پښتون قام ته وقف کړے دے. هغې د پښتون سوچ رابېداروړلو دپاره هره لار لټولې او پرې تلې ده .په کوم چې د پښتون کور ته د علم رڼا رسېدلې شوه.سلمٰی شاهين په خپله ټوله شاعرۍ کښې معنٰی او مقصد تر نظره ساتلے دے. هغه پښتنه ده او د پښتني رواياتو د پابندو په نظر ئې د شاعرۍ په چوکاټ کښې پښتنو مېرمنو ته دهغې د مسائلو حل په ګوته کړے دے او ددې سختوروېواوبندېزونو نه د بهر وتلو لارې ښودلو کوشش ئې هم کړے دے او په دې اړه د محترمې شاعرې (نظم او غزل) کښې د مايوسۍ په نسبت د زېري ا و امېد ډک پېغام ورکړے دے چې نه صرف د ښځۀ بلکې د سړو د ژوند لارې هم رڼا کوي.

د ښځو د حقونو غوښتنې په حواله د سلمي شاهين هم هاغه نظريه لري کومه چې مذهب اسلام ده . په دې وجه هغه په خپل کلام کښې د ښځو حقونو او آزادي سره تړلي نظريات وړاندې کړي دي. د هغې په شاعرۍ کښې د ښځې په حقله منفرد او مختلف انداز کښې ډېر په احترام او عزت سره ذکر چېړلے دے . کله د يوې مور په صورت, کله د يوې حسينې نازنينې جينۍ په شکل ,کله د يوې ښځې د جفاکشې ,تورزنې او مړانې باندې شاباشې ورکولو په صورت , کله د يو ليډرې په صورت کښې ,يا د يوې نوکرې په حېث ,کله د هوس ښکار شوي مظلومې په حېث ,غرض په معاشره کښې د ښځې هر حېثيت سره تړلي خپل خيالات او مشاهدات او تجربات په ازاد نظمونو کښې خوندي کړي دي او د ښځې تعليم و تربيت ته ئې توجه ګرځولې ده.د ښځې عزت ,تعليم وتربيت ئې د سړو اولين فرض ګڼلے دے. د معاشرې د ښځو شجاعت و بهادري ستائينه او دهغوي عزت و احترام , د حقونو غوښتنه . غلطو رواجونو نه خلاف آواز پورته کول , آزادي حاصلول , د عزتونو حفاظت کولو سره تړلي خيالات او عکسونه د هغې په شاعرۍ کښې ځاے په ځاے په نظر راځي .

له همدې امله دا ثابته شوه چې ډاکټر سلمه شاهین د زنانه و د آزادۍ یو پیاوړې مرستیاله ده او غواړي چې ښځۀ ته دې خپل بنیادي حقونه حاصل شي . کوم چې معاشرې ترې ضبط کړي وي د کوم دپاره چې ټول عمر په صبر او برداشت ،غمونو سختو په زغملوددې دنیا نه مروري لاړې شي .

د سلمه شاهین په شاعرۍ کښې ښځینه موضوع جائزه اخستو نه وروسته مونږ ددې وښنا جوګه یو چې سلمیٰ شاهین نظریه عورت طرفته توجه کړې ده. هغه دزنانهۀ د حقونو ,عزتونو د حفاظت قائله ده او غوښتنه کوي چې ښځې دې تعلیم یافته شي نو د دوي مسائلو کښې به کمے راشي.ځکه چې پوهه راشي .شعور بېدار شي.نو هلته رڼاګانې راشي .سلمه شاهین د یوې داسې معاشرې تشکیل غواړي چرته چې ښځې د سړو څنګ په څنګ کار کوي ۔ که چرې د دوي په خبرو غور او فکر اوکړے شي . نو مونږ ته به یو صحت منده معاشره نصیب په کومه کښې چې سړو او ښځو ته برابر حقونه اورسېږي .

# ماخذونه


1) سلمیٰ شاهین , سره مرکه ، عسکري ٦ ، یکم دسمبر ۲۰۲۱ء ، وخت سحر لس بجې
2) ڈاکٹر یوسفِ خشک، چیئر مین اکادمی پاکستان اسلام اباد،، پیش نامہ پاکستانی ادب کے معمار، پروفیسر ڈاکٹر سلمی شاہین کی شخصیت اور فن , سن اشاعت, ۲۰۲۲ء , ص ۸
3) سلمیٰ شاهین , ناچاپه شاعري ، مخ,۲۶
4) سلمیٰ شاهین , دیباچه ,د عصمت شاعرۍ مجموعه ص،۱۱_۱۲
5) سلمیٰ شاهین , ناچاپه شاعري.مخ ۳۱.۲۹
6) سلمیٰ شاهین , سره مرکه ، عسکري ٦ ، یکم دسمبر ۲۰۲۱ء ، وخت سحریو لس بجې
7) سلمیٰ شاهین, مجموعه ,نو ے سحر,مخ ۳۳-۳۵
8) نو ے سحر د مطالعې په میز "سیدچراغ حسن حسرت,پښتو مجله,اپریل ۱۹۸۳ء،مخ۵۳،
9) سلمیٰ شاهین , ناچاپه شاعري . ،۲۷-۲۸
10) اباسین یوسفزئ, خرمن ادب, مشرق میگزین,۲۶مارچ تایکم اپریل ۲۰۰۰ء
11) سلمیٰ شاهین ، انتخاب شاهین ،مخ ،۲۵_۲۶
12) هم دغه مجموعه ، مخ ۲۳ ، ۲٤
13) سلمیٰ شاھین، دل اور آنکھیں چین میں، ثقافتیں گرافکس آرٹ محلہ جنگی، مارچ 2003 ص,۱۸_۱۹
14) سلمیٰ شاهین ، انتخاب شاهین ،مخ ,۲۰-۲۲
15) هم دغه اثر مخ ,۵۱
16) سلمی شاهین تورسري..تحقیق و تدوین,,, ء,جدون پرنټینګ پریس پیښور..چاپ کال ۲۰۰۵ء،مخ، ۱۰۳
17) زیتون بانو بی بی ،مقاله ' سلمیٰ د ژوندو جذبو میرمنه " درې میاشتنۍ مجله, پښتو جنوري ,فروري ,مارچ ۲۰۰۶ ,سلسله نمبر۵۷۷ ..مخ ۱۵۱..
18) شکریه قادر,دشلمې صدۍ پښتو ښځینه ادب کښې د ښځو سماجي او نفسیاتي مسئلو تجزیاتي مطالعه ۲۰۰۷ء -۲۰۰۸ء,مخ ۲۴۸
19) سلمیٰ شاهین" زۀ هم هغسې وړه وے"ملت پرنټرز لا□ور ۱۹۹٤ء مخ,۸۵..
20) ورځپاڼه مشرق پېښور"ادب نامه " .هما بیګ سره مرکه ,کال۲۰۰۸ء

References


i. Salma Shaheen , Sara maraca Askari 6 ,yakam December 2021 ,wakhat sahar las bajay
ii. Dr, yousaf khushak, ,pesh naama ,"pakistani adab ke memaar,professor DR,Salma Shaheen, Shakhsiyat awr fun Akadami Adbiyat Pakistan H8/1 Islam Abad,san eshaat 2022,safha 8,,
iii. Salma Shaheen naachaapa shairi,makh No,,26..
iv. Salma Shaheen deebacha, da Asmat shairey majmooa makh No,11-12
v. Salma Shaheen naachaapa shairi,makh No,29_31
vi. Salma Shaheen , sara maraca askari yakam December,2021 ,wakhat sahar las bajay Salma Shaheen naachaapa shairi,makh No
vii. Salma Shaheen,majmoaa, naway sahar ,makh No,33_35
viii. Naway sahar da mutalaeey pa maiz,seyed charagh hassan hasrat, pakhto majlla ,1983, makh no,53
ix. Salma Shaheen naachaapa shairi,makh No.27-28
x. Abasin yousafzai,kherman Adab, Mashriq magazine,26 march ta yakam April, 2000
xi. Salma Shaheen.majmua ,intekhab-e –Shaheen,makh no,25-26
xii. hHuma dgha majmoaa,makh no,23-24
xiii. Salma Shaheen, Dil aur ankeen cheen main, Saqafti Graphics Mohalla Jangi ,march 2003,safaha no,18-19
xiv. Salma Shaheen.majmooa ,intekhab-e –Shaheen,makh no,20-22
xv. Hum Dagha Asar,makh no,51
xvi. Salma Shaheen , Tursari , Tehqeeq wa Tadween ,Jadoon ,Printing press, Pekhwoor 2005,makh no,103
xvii. Zaitoon Bano BI BI ,Mqala, Salma Shaheen da jwando jazbo mermanah, deray meyashtani majlla ,January Febuary,march,2006.Sesela no,577,makh no,151
xviii. Shukria Qadir maqala ,"Da Shalmay saday pukhto Adab kay khazeena saamjee au nafsiyatee masaiyelo tajzeyati mutaleea" Session,2007-2008. Makh 248
xix. Salma Shaheen , Za hum Aghasay Warha way" Millat Printers Lahore,1994, Makh no,85
xx. Waraz Pana Mashriq, pekhawar ,,Adab Nama, Huma Baig Sara Maraka ,kaal ,2008